مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

زبير افغان

۲۰۱۹/۰۶/۰۸

# د قاضي او قضا ځيني اړين شرطونه

قضا په انساني ټولنه کې ډېر دروند مسووليت دی. د محاکمو په تاريخ کې له لرغوني زماني بيا تر ننه انسانانو مختلف سيستمونه پنځولي دي چې کله يې د وخت په تېرېدا عيبونه ور مالوم شوي دي نو د بل په لټه کې شوي دي چې اخير يې د محاکمو نوي اصول وضع کړي.

د انسانانو پر حقونو فيصلې کول اسانه کار نه دی، له دې امله په اسلامي و غير اسلامي ټولنو کې د محکمې او قاضي لپاره شرايط وضع شوي دي چې له هغواصولو په سرغړونه محکمه او قاضي پر يوه تورن د پرېکړې حق نه لري. که په يوه سيمه کې نظام موجود وي نو د دې ډول ناغېړيو مخه نيسي او کوونکي يې عدالت ته وړاندي کوي او که د نظام لاس نه ورسېږي نو بيا د خالق محکمې ته حواله دی چې هره سزا يې ور کوله هغه د هغه له شان سره مناسبه ده.

په مسلمانانو کې که د هر مذهب فقهي ولوستل شي نو د قاضي شرطونه يې بيان کړي او هر څوک که له دې شرايطو خالي وي د قضا دنده مخته نه شي وړلای. اصلا قضا او محکمې جوړول د برحاله نظامونو کار دی، څوک چې برحاله پر يوه سيمه کنټرول ونه لري، نو د مجرم نيول هم نه شي کولای او نه هم د يوې يوې قضيې په اړه لازم تحقيقات کولای شي.

زموږ په هيواد کې له کلونو را په دې خوا طالبانو او داعش ډلو خپلې بياباني محکمې جوړې کړې دي چې ان خلګو ته د مرګ سزاوې هم ور کوي. ياني نوري پرېکړې خو حتما کوي، حتا د يوه انسان د ژوند او مرګ فيصلې هم خورا زياتې کوي.

د محکمو لپاره سيستمونه شته، اسلامي محکمې خپل خصوصيات لري، زه لومړی د اسلامي محاکمو د سيستم په اړه لېږ وضاحت کوم:

۱-: د دعوې د حل لپاره د يوه ځانګړې سرچينې جوړول. د رسول الله په زمانه کې هغه دا چاره سمبالوله، تر ده وروسته اصحابو کې په دې اړه مشوره کېده او ځينو سيمو ته يې ځانګړي قاضيانو لېږلي وو لکه د عمر فاروق په وخت کې سلمان بن ربيعة الباهلي يې کوفې ته د قاضي په توګه لېږلی وو او داسي نور.

۲-: د محاکمې په جريان کې د قاضي مداخله. رسول الله له يوه متهم څخه د واقع شوي جرم په اړه پوښتنې کړې دي، حتا هغه ته يې مخالف نومونه اخيستي دي چې داسې کار دې وکړ او که هغسې؟ د قضيې د ښه روښانتيا په خاطر قاضي چې هر ځای مناسبه وبولي مداخله به کوي خو يوازي د روښانتيا لپاره نه د نورو اغراضو له کبله.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۳-: د مسلکي قاضيانو ګومارنه.پریکړې یوازې شرعي جنبه نه لري، بلکې داسې مسایل هم شته چې پخوانیو فقهاؤ یاد کړي هم نه وي له دې امله نو د قاضي لپاره له شرعي علم سره نور اړین علوم هم ضروري دي. فقهاء هم په دې اند دي چې قاضي باید په فقهي قضایاوو او معاصرو علومو عالم وي چې عدالت په ښه ډول تامین کړي. رسول الله د علمي او قضایي چارو لپاره خاص کسان در لودل، کله یې هم په علمي-قضایي چارو پسې خالد نه دی لیږلی، مګر معاذ بن جبل یې ورته غوره کړی دی. بل طرف ته یې په جنګي چارو کې تر نورو خالد ته ترجیح ور کوله، ځکه لکل فن رجال!

۴-: د محاکمو لپاره یو داسې اداره لازمي ده چې شوې پریکړې پکې خوندي وي. د فیصلو لیکل ځکه اړین دي چې ممکن یو کس بله ورځ بیا د فیصله شوې دعوې اعاده بیرته وکړي. نو د ابینده خطر د له منځه وړلو لپاره لازمي ده چې باید فیصلې ولیکلې شي او د شر سد باب وشي.

۵-: محکمه باید علني او ښکاره وي. د محکمې علني کېدل د عدالت لپاره هم ګټور دي او هم د فساد مخنیوی په کېږي. قران کریم هم امر کړی دی چې د مسلمانانو یوه ډله دې د سزا مهال راشي چې عبرت واخلي، لازمي خبره ده چې هلته به قاضي خپله پریکړه اعلانوي او د جرم ثابتوني وروسته به سزا ور کوله کېږي. امام شافعي هم په کتاب الام کې وايي:

بان الحکم لا یکون الا علانیّة. یاني د قاضي هر حکم ارو مرو باید علني وي.

۶-: متهم ته له ځانه د دفاع حق ور کول. په غیر اسلامي هیوادونو کې هم متهم ته وخت ور کول کېږي چې له ځانه دفاع وکړي او خپله ځان ته مدافع وکیلان نیول کېږي. مسلمان قاضي باید تر هغو د محکمې پریکړه اعلان نه کړي چې له متهم کسه پوښتنه ونه کړي چې د دې پریکړې خلاف ته نور دلایل هم لرې کنه؟ کله چې د متهم کس ټول شبهات ختم شول او دلایل یې له ځانه د دفاع نور نه در لودل، بیا قاضي کولای شي چې خپله پریکړه اعلان کړي.

د اسلامي محاکمو لپاره دا اصول بیخي منل شوي دي، حتا په غیر مسلمانانو هیوادونو کې هم تر ډېره حده دا اصول عملي کېږي او محکمې د یادو اصولو څخه سرغړونه نه کوي. اوس به راشم دې ته چې د طالبانو او داعش په شان ډلې کولای شي چې دا اصول په خپلو محکمو کې عملي کړي کنه؟

د لومړي شرط په اړه ممکن طالبان او دوی ته ورته ډلې تېلې ادعا وکړي چې موږ هم محکمې لرو؛ اما د دولتونو په شان محکمې نه دي. دولت جرایم او دعوې سره ویشلي دي، بیا یې د هرې یوې لپاره خپل قانون د حنفي فقهي په رڼا کې جوړ کړی او ځانګړي قاضیان لري چې په خپل مسلک کې د هر یوه پوهه ورته لازمي شوې ده. د دعوې د اثبات لپاره هم دولتونو خپل میتودونه لري او هغه یې په قوانینو کې روښانه کړي دي.

که اوس له طالبانو او ورته ډلو پوښتنه وشي چې تاسو سمه ده چې محکمه لرئ اما د محکمې لپاره قاضي ته کوم شرایط لرئ؟ محکمې مو د کومو اصولو له مخې تورن کسان محکمه کوي او یا د مدعي و مدعي علیه پر و ناپر څنګه سره مالوموئ کوم قانون دا ټکي روښانه کړي دي؟

دویم شرط دادی چې قاضیان د محکمې په جریان کې مداخله کولای شي. مداخله هم د شواهدو یا ثبوت په رڼا کېږي، که یو تورن یو څه وايي، نو قاضي د خپلو مالوماتو په رڼا کې چې څارنوال یې ور کوي له هغه پوښتنې کوي، که یې ناسمې خبرې کړې وي هغه په دلایلو ردولای شي. وسله والې ډلې د مالوماتو د راغونډولو لپاره څوک لري؟ پر هیڅ ځای باندې واک نه لري نو مالومات څنګه راټول کړي؟ له یوه قاضي ماسیوا د څارنوال په نوم هیڅوک نه لري، نو مداخله څنګه وکړي؟

د قضا لپاره د مسلکي کسانو ټاکل اړین دي. وسله والې ډلې په خپلو ګروپونو کې د لمانځه د امامت څوک نه شي پیدا کولای نو د قاضي لپاره اړین شرطونه به څنګه پوره کړي؟ یوازې دیني علوم شرط نه دي، بلکې نن خو ټیکنالوجي ده، ډېرې داسې دعوې پیدا کېږي چې له ټیکنالوجي سره اړه ولري، یو تورن یا مدعي و مدعي علیه ښایي رواني

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مشکل ولري، بل یو کار کړی وي خو پر یوه کس یې تاوان کړی وي، دا مشکلات به یوازې یو کلیوالي ملا په فقهي کتابونو څنګه حلوي؟

د قضایاو تر حل وروسته دا اړینه ده چې قضا خپل ډیټابیسټ ولري چې اسناد پکې ثبت شي، د وسله والو ډلو په ګرزنده محکمه کې به دا ډیټابیسټ له کومه شي او د اسنادو ثبت به هلته څوک کوي؟ دوی خو تر یوې ونې لاندې کیني مسله سره ور حل کړي او پر موټرسایکل پښه واړوي روان شي، د اسنادو ثبت څنګه وکړي؟

محکمه باید علني وي، وسله والې ډلې خو لومړی یو څوک مړ کړي، ویډیو یې وکړي او بیا یې تر مرګ وروسته نشر کړي، د درو یا سنګسار تر اجرا وروسته اعلامیه خپره کړي چې اسلامي امارت یا اسلامي دولت پلانی ځای پر دونه مجرمینو حدود جاري کړل!؟ محکمه هیڅ ملي یا نړی وال بنسټ نه ویني او نه یې له جریانه خبر وي، همداسې ځاراني محکمې دي او انسانانو ته په کې د مرګ و ژوند پریکړې کېږي.

یو بل مهم ټکی دا هم دی چې تورن باید له ځانه د دفاع حق ولري. ممکن ناسم تور په هغه پسې تړل شوی وي، امکان لري هغه عذر ولري، د یوې دعوې د اثبات لپاره معقول دلایل ولري، یو کار یې هیڅ نه وي کړی مګر د یوې شبهې له مخې راوړل شوی وي. وسله والې ډلې چې هره ورځ د خلکو د حقونو په اړه پریکړې کوي، یا حدود په پټه جاري کوي، ایا تورن ته له ځانه د دفاع حق ور کړل شوی؟ چا تر اوسه لیدلي دي چې یو کس په جاسوسي تورن شوی، هغه له وسله والو سره څو میاشتې یا کلونه بندي وو چې هغه له ځانه د دفاع شواهد وړاندې کړي یا هم مدافع وکیل ونیسي؟ جالبه دا! دوی تر اوس په دې هم نه پوهېږي چې یو څوک مجرم بلل یوازې د یوې محکمې کار دی چې په رسمي ډول به هغه مجرم ګڼي او ټول شواهد به د اخیرې پریکړې مهال ذکر کوي، مګر د وسله والو محکمې خو هیڅ ملي یا نړی وال بنسټ نه شي لیدلای بیا به هلته جنائي عدالت څنګه راشي؟ د جنائي عدالت هدف دادی چې هیڅ مجرم باید له سزا ګاللو پرته پاته نه شي او هیڅ بې ګنا کس ته باید ناحقه سزا ورنه کړل شي.

دولت خو د جرایمو د معرفي و تعریف لپاره قوانین لري، د جرم د اثبات لپاره ځانګړې اداري دي چې د یوه تورن کس دوسیه مکمله څارنوالي ته لېږي، په هغه دوسیه کې کشفي اداري یا پولیس و اردو چې په کوم حالت کې څوک نیولی وي او هغه شواهد چې له هغه سره د نیولو په حال کې یا تر اقرار وروسته یې لاس ته راغلي وي ټول څارنوالي او هغه یې تر کره کولو وروسته د قاضي په واک کې ور کوي، نو وسله والې ډلې د محاکمو په جریان کې ایا دا پروسیجر لري؟

زموږ له سیمو څخه زه مالومات لرم چې د بسته ولسوالي لپاره وسله والو یو کس د قاضي په نوم معرفي کړی وي، هغه حقوقي دعوې مخته وړي، هغه طریقه چې دولتونه یې د محکمو لپاره لري تر اوسه یې وسله وال نه پېژني او نه یې په دې تاخته او راتاخته کې د عملي کېدا امکان شته.

د وسله والو محکمې یو لور ته د خدای له مخلوق سره ظلم دی او بل لور ته د دیني و ملي ارزښتونو سپکاوی دی. دوی په دې محکمو نه یوازې د ځان رنګ بدوي بلکې دین هم ورسره بدنامېږي، هم نن او هم سبا په تاریخ کې د خندا او سخریې وړ ګرزي. وسله وال که له حکومتونو سره سیاسي مخالفت لري هغه پر خپل ځای مګر محکمه د هغه چا کار نه دی چې په غره کې تر یوه ونه لاندې ناست وي او د حق و ناحق پریکړې کوي، اسلام او قانون د حق و ناحق ثابتونې لپاره اوږده پروسه ټاکلې ده چې تر هغه پروسیجر یوه قضیه تېره نه شي حق و ناحق یې نه مالومېږي، بناء وسله وال دې د خپلو څاراني محکمو پر ځای خلک دولتي محکمو ته ولېږي او له دولتي محکمو سره دې د حل و فصل په اړه مرسته وکړي نه دا چې په وچه و لنده خلګو ته پریکړې ور وکړي.

**سرچینې:**

مجلة كلية اداب، د انور عبد الکریم عبد القادر لیکنه

اصول محاکمات جزائي د پوهان دوکتور حفیظ الله دانش لیکنه کابل چاپ ۱۳۹۷



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په څیر و لولئ

اخبار القضاة، ۳ ټوک، ۳۱۲ مخ، د وکيع ليکنه

په ويکي بوک ويبسايټ کې د شيخ مخلص احمد الجدة په نوم يوه عالم د النظام القضائي فی الاسلام تر سرليک لاندي غټه مقاله ليکلې ده چې د قاضي او قضا پر مهمو مسلو يې بحث پکې کړی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ